مسلمان هغه څوک دی چې نور مسلمانان يې د ژبې او لاس له ضرر څخه په امان کې وي او مهاجر هغه څوک دی چې هغه څه پريږدي چې الله پاک ورڅخه منعه کړی وي

له عبدالله بن عمرو رضي الله عنهما څخه روايت دی چې رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: «مسلمان هغه څوک دی چې نور مسلمانان يې د ژبې او لاس له ضرر څخه په امان کې وي او مهاجر هغه څوک دی چې هغه څه پريږدي چې الله پاک ورڅخه منعه کړی وي».

[صحيح دی] [متفق عليه دی]

رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي چې د کامل اسلام خاوند هغه څوک دی چې د هغه له ژبې څخه مسلمانان په امن کې وي، نه ورته کنځلې کوي، نه پرې لعنت وايي، نه يې غيبت کوي او نه يې تر منځه يو بل ته د هېڅ ډول ضرر رسولو هڅه کوي. او د لاس څخه يې په امن کې وي، نو تېرى پرې نه کوي، له حق پرته يې مالونه نه اخلي او داسې نور. او مهاجر هغه دی چې هر هغه څه پريږدي چې الله تعالى ترې منع کړی دی.

http://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/10101